مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

سرلوخ مرادزی

۲۰۲۰ / ۰۷ / ۳۰

# اتکل

د فلک سترګي بیا سرې راته ښکاریږي
په اسمان کې هم د وضعي حال بدل دی
د ماحول تندی تریو او په غضب دی
طبیعت کي ګډوډي ده شرغوبل دی
پاس چي عرش د واکمنی دعوه کوله
راپریوتي نن تر ځمکي لاندي دل دی
ملایکو به په کانو شیطان ویشت
نن شیطان د ملایکو سره مل دی
کوم مورچل چي ملایکو ترې ویشتل کړل
اشغال کړی نن شیطان هغه مورچل دی
د اسمان د عدالت قصه رخصت ده
نیول شوی د ابد په تور ازل دی
وخت، اسمان او ځمکي هسي لوبه وکړه
له ګریوان یي رانیولي هر یو غل دی
د زاړه نظم مانی له منځه تللي
ټول جهان د نوي نظم په تکل دی
چي انسان په برخلیک خپل واکمن نه شي
د تقدیر د واکمنیو په لاس شل دی
د تقدیر په نوم زندان اینده کي نه شته
د بدمرغه ولسونو پرې یرغل دی
ارزوګاني امیدونه راټوکیږي
د بریا کاروان روان مخ پر منزل دی
د زمان د کاروان مخه نیوی نه شي
لوی بدلون د بشریت زما اتکل دی
نن یی ورځ ده چي د وخت سره همغږ شو
پخواني وختونه لاړل وخت بدل دی
**شعروزمه خیالونه**



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بڼي پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکي په ځیر و لولئ